د افغانستان اسلامي امارت

**د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت**

**د دفتر عمومي ریاست**

**نېټه: / /۱۴۰۴**

**ګڼه:** ۱۴۴۷/ ۴/ ۱ ۱۴۴۷

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د دفتر عمومي ریاست
د صادرې مهر: نېټه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیم

**د ا.ا.ا د چارو ادارې محترم لوی ریاست**

**د پانګونې د اسانتیا د محترم ریاست د پام وړ!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

**موضوع: د ننګرهار ولایت د حصار شاهي د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا په اړه د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې پرېکړه**

لکه څرنګه چې تاسې ته معلومه ده، اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۶/۰۶/۲۳ هـ ق کال د ٦ ګڼې مصوبې په اساس د ننګرهار ولایت د حصار شاهي د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا د پروژې د رغولو چارې د عوفي بهرام او ګرین سټېپ پاور شرکتونو ته د (۵۰،٦۹) میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت ورکړل شوې دي.

د ګرین سټېپ پاور شرکت له دې معاونیت سره د غوښتنلیک په اساس یوه طرحه شریکه کړې چې په حصار شاهي صنعتي پارکونو کې د لمریزې برېښنا د تولید پروژې په (۳۳،۷۸۳،۰۰۰) میلیونه امریکایي ډالره تطبیق کړي، په یاده طرحه د ۱۴۴۷/۰۳/۰۱ نېټې په پنځمه تخنیکي کمېټه کې بحث وشو او داسې پرېکړه یې وکړه: «**د چارو ادارې لوی ریاست اړوند د پانګونې اسانتیا ریاست په مشرۍ د اوبو او انرژۍ وزارت، د مالیې وزارت، د کانونو او پټرولیم وزارت او د امارتي شرکتونو لوی ریاست اړوند د افغانستان برېښنا شرکت دې په حصار شاهي صنعتي پارک کې د (۴۰) مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید په موخه د عوفي بهرام او ګرین سټېپ پاور شرکتونو له لوري د وړاندې شویو پروپوزلونو مالي او تخنیکي ابعاد او اقتصادي معاونیت اړوند د حقوقي چارو ریاست دې یې حقوقي ابعاد وڅېړي او خپل راپورونه دې د اقتصادي کمېسیون تخنیکي کمېټې ته وړاندې کړي، د یادو پروپوزلونو د مالي، تخنیکي او حقوقي اړخونو د څېړلو پر مهال دې د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴٦ ه ق کال د (٦) ګڼې مصوبې (۷) بند پرېکړه په پام کې ونیول شي.**»

په دې اساس موضوع ستاسې محترم وزارت/ ادارې ته د وروستیو کړنو په موخه در واستول شوه؛ هیله ده د کړنو راپور مو له دې معاونیت سره شریک کړئ. والسلام

**ډېره مننه**

**مولوي عبدالله عزام**

**د ریاست الوزراء د اقتصادي معاونیت**

**د مقام د دفتر عمومي رئیس**

کاپي:

د مالیې محترم وزارت

د اوبو او انرژۍ محترم وزارت

د کانونو او پټرولیم محترم وزارت

د افغانستان برېښنا محترم شرکت

د اقتصادي چارو محترم ریاست